۶۵۴

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۴۶مه ګڼه ۱۳۹۵المریز کال د دحوت۷مه د ۱۴۳۸ هـ ق د جمادی الاول ۲۸مه د ۲۰۱۷م د فبروری ۲۵مه

آبادی کشور
از آرمانهای شهدای
جهاد است

نیم نگاهی به خدمات علمی دکتور محمدعماره

افغانستان او پاکستان

کړکېچنې اړیکې او وروستۍ ناندرۍ!

از آن ناخرسندم
اما نمی‌ترسم!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است: «مَن أحبَّ لقاء الله أحبَّ اللهُ لقاءه، ومَن کره لقاء الله کره اللهُ لقاءه»، فقالت عائشة: یا نبیَّ الله، أکراهیة الموت؟ فکلنا یکره الموتَ؟ فقال: «لیس کذلک، ولکن المؤمن إذا بُشِّرَ برحمة الله ورضوانه وجنته، أحبَّ لقاء الله فأحبَّ اللهُ لقاءه، وإن الکافرَ إذا بُشِّرَ بعذاب الله وسخطه، کره لقاء الله وکره اللهُ لقاءه» هر کس دیدار خدا را دوست داشته باشد خداوند نیز دیدارش را دوست دارد و هر کس از دیدارش نفرت داشته باشد او هم از دیدارش بیزار است. عائشه رضی الله عنها فرمود: ای رسول خدا اگر منظور ناخوش داشتن مرگ است همه‌ی ما از مرگ بدمان می‌آید؟ فرمود: این گونه نیست؛ اگر مژده‌ی رحمت خدا و رضوان و بهشت او به مؤمن داده شود مشتاق دیدار خداوند خواهد و خداوند نیز دیدارش را دوست خواهد داشت و اگر مژده‌ی خشم و عذاب الهی به کافر داده شود دیدار خداوند را ناخوش می‌دارد و خداوند نیز دیدارش را ناخوش خواهد داشت. [مسلم].

اهل بابل بر این باور بودند که می‌توان نوعی اکسیر شیمیایی زندگی تهیه کرد که انسان را تا ابد زنده نگه دارد؛ اما الله متعال می‌فرماید: «وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِکَ الْخُلْدَ أَفَإِن مِّتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ» ۳۴ «کُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَنَبْلُوکُم بِالشَّرِّ وَالْخَیْرِ فِتْنَةً وَإِلَیْنَا تُرْجَعُونَ» [انبیاء: ۳۵]

ما برای هیچ انسانی پیش از تو زندگی جاویدان قرار ندادیم (تا برای تو جاودانگی قرار دهیم. بلکه هر کسی مرده و می‌میرد و تو هم می‌میری. وانگهی آنان که انتظار مرگ تو را دارند و با مرگ تو اسلام را خاتمه یافته می‌دانند)، مگر اگر تو بمیری ایشان جاویدانه می‌مانند؟!

«إِنَّکَ مَیِّتٌ وَإِنَّهُم مَّیِّتُونَ» [زمر: ۳۰]. تو هم می‌میری، و همه‌ی آنان می‌میرند.

انسان طبعا دوست دارد همه چیز بر همان حالتی که هست باقی بماند در حالی که این خلاف سنت الهی و در تضاد با مصلحت انسان و منافع بشریت است؛ اما گاهی الفت و محبت مانع دیدن منافع می‌شود و به جستجوی راهی برای ایستادگی در برابر مرگ می‌انجامد؛ تصور می‌کند که مرگ نابودی قطعی و نهایی است در حالی که این به معنی محدود کردن مفهوم مرگ و بر باد دادن آرزوهای بی‌پایان انسان در گرایش به جاودانگی است. ترس از مرگ یعنی مردن پیش از موعد که این ترس بیش از دیگران در بین جوانان شایع است و آن هم به دلایلی:

۱-ضعف آگاهی نسبت به مفاهیم مرگ و زندگی و نداشتن بینش مثبت و زیبا از مرگ و زندگی که بتواند پذیرش هر دو را در درون انسان نهادیه کند.

۲-فروپاشی خانواده به طوری که انسان به تنهایی و بدون حمایت و کمک دیگران به مصاف رخدادهای زندگی می‌شتابد.

۳-تصویر مرگ و زندگی به صورت واقعی به کودکان نشان داده نمی‌شود و معمولا تصویری مشکوک و ترسناک از آن را می‌بینند که بر زندگی آنان تأثیر می‌گذارد.

جوانی که از هر نوع موفقیت و مسؤولیت و تفریح و سرگرمی بیزار است و همیشه احساس گناه می‌کند، شاید به خاطر حادثه‌ای باشد که برایش پیش آمده یا نتیجه‌ی آموزش انحرافی در کودکی یا ناشی از افسردگی یا برداشت نادرست از مفهوم مرگ باشد. تصور مرگ در موعظه‌های دینی غالباً از تهدید و حدیث مفصل از دردهای کشنده‌ی آن حکایت دارد. این همان چیزی است که ابن قیم نیز به آن اشاره کرده است. ایشان می‌گوید: «خطبه‌های رسول خدا (صلی الله علیه وسلم) تثبیت اصول ایمان بود؛ از ایمان به خدا و ملائکه و کتاب‌های آسمانی و پیامبران و ایمان به آخرت سخن می‌گفت. از یادآوری بهشت و جهنم و نعمت‌هایی که خداوند برای اهل طاعت آماده کرده است و آن‌چه برای اهل معصیت فراهم کرده است. دل‌ها از سخنان او پر از ایمان و توحید و شناخت و نزدیکی به خداوند می‌شد. همانند دیگر خطبه‌ها نبود که به امور مشترک بین مخلوقات می‌پردازد و غم و ماتم زندگی و ترس از مرگ را با خود می‌آورد. این روش در دل‌های انسان‌ها نه ایمان می‌آفریند و نه توحید و نه شناختی که مخصوص خداوند است؛ نه باعث نزدیکی به خدا می‌شود و نه شوق و محبت دیدار الهی را در دل‌ها برمی‌انگیزد. شنوندگان در حالی از مجلس بیرون می‌روند که سودی عایدشان نشده است جز اینکه شنیدند که روزی می‌میرند و اموالشان تقسیم می‌شود و خاک جسمشان را می‌خورد. راستی چه ایمانی ره‌آورد این سخنان است؟ چه توحید و شناخت و دانش سودمندی نصیب انسان می‌کند؟» [زاد العماد].

ما باید با آرامش بمیریم؛ عمل و ایمان و خدمت به دیگران بخشی از رهنمودهای کتاب زیبایی است که «آرامش روح زندگی در شیرینی‌ها و تلخی‌های آن است» نام دارد.

نویسنده: دکتور سلمان بن فهد العوده

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سرک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۹۰۰۸۱۵۲ – ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

پکتیا:دگردیزښار، مرکزی چوک ، دنی نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست : افغان ټاور، شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ډاکټرمحمد گلاب:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: سرک ولایت ، نارسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشی: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

سرمقاله

کله چې قانون پلي کوونکي قانون ته غاړه نه ږدي...!

تېره اونۍ د هېواد د جګړه ځپلې پلازمېنې پرفضا یو ځل بیا د کورنۍ جګړې او تاوتریخوالي د ورځو سیوری غوړیدلی ؤ، د کابل ښاریان -چې هسې هم هره شیبه او هره ورځ یې د ړندو بمونو او چاودنو ویره او ترهه پر ذهن خوره وي- د شیر پور په سیمه او د ولسمشر د لومړي مرستیال د کور او کارځای چاپېره د امنیتي ځواکونو د وسله‌والو ډلو او آن ټانکونو ځای پرځای کېدو سخت وارخطا کړې ؤ او دې ویرې شتون درلود چې هسې نه د اوایمې لمریزې لسیزې په څېر د ښار په کوڅو کې لاس په لاس وسله‌واله جګړه پیل شي.

خو د هېواد قضایي او عدلي ارګانونو ته د څېړنو په موخه د ولسمشر د لومړي مرستیال د څو تنو ساتونکو ورتلل، دغه تاو جنه او لړزېدونکې فضا لږ سړه کړه او اېله کابل ښاریانو لږ د آرام ساه واخیسته. اصلي ستونزه له هغه ځایه پیل شوه چې د ولسمشر لومړی مرستیال او د هغه څو کسه ساتونکي د جوزجان له پخواني والي احمد ایشچي سره په ناوړه بشري چلند تورن شول او د څېړنو لپاره لویې څارنوالۍ ته وغوښتل شول او دوی بیا دغه ډول څېړنو ته حاضر نه شول.

کله چې دې موضوع او د دواړو لوریو اختلاف زور واخیست، لومړی مرستیال له ګڼو وسله‌والو سره کابل ته راغی چې کولای شو د دواړو لوریو تر منځ د کشمکش او همدارنګه په کابل ښار کې د وسله‌والې نښتې د اندېښنو را ولاړېدو د اوج ټکی ورته ووایو.

اوس که ددې شخړې اصلي رېښې ته وګورو او له دې قضاوت نه هم تېر شو چې د ولسمشر د لومړي مرستیال او د هغه د ساتونکو پر خلاف دغه تورونه د نوموړي خلاف د یوې سترې سیاسي توطیې او دسېسې یوه څنده وه که نه؟ یو څه چې له ورایه ښکاري، هغه قضا او محکمې ته د لوړ پوړو چارواکو سر نه اېښودنه ده او د افغانستان په معاصر تاریخ کې دا لومړی ځل هم ندی چې دا ډول ستونزې را منځ ته کېږي.

کله چې د لومړي مرستیال له اړخه لویې څارنوالۍ ته د خپلو ساتونکو د نه ورکړې موضوع او ورسره د کابل ښار په حساسو سیمو او کوڅو کې -چې اکثراً پکې نړیوالې موسسې او ډیپلوماټېک مرکزونه مېشت دي- د امنیتي ځواکونو ځای پر ځای کېدل ارزوو، نو څرګندېږي چې ستونزې یوازې د قانون له پلې کېدو څخه تېښته او پر عدلي او قضایي سیستم باندې ملنډې دي.

که څه هم تر اوسه دا هم نه‌ده څرګنده چې لویې څارنوالۍ ته د ورغلیو هغو ساتونکو څخه به تحقیق او څېړنې څومره شفافې او رڼې وي او دا هم نه‌ده معلومه چې ددې څېړنو پایلې به څه ډول وي؟ او آیا دا پایلې به بیا د یوې سیاسي لوبې ښکار نه شي؟ خو ددې ټولو اندېښنو سره سره، مهمه خبره داده چې که په یوه هېواد کې قانون په ټولو وګړو په برابره بڼه پلی نشي، هېڅ کله به هغه هېواد او ټولنه هوسا او سوکاله ژوند و نه کړي. د خواشینۍ ځای دا دی چې دلته یوازې پر بې‌وزلو قانون پلی کېږي او زورواکي، بلواکي، مافیایي ډلې او رشوت‌ورکونکي له قانون څخه پورته ګڼل کېږي.

افغان ولس چې څو لسیزې یې د تپل شوې جګړې په ترڅ کې -چې متاسفانه اوس هم روانه ده- خپله مادي او معنوي شتمني له لاسه ورکړې ده، په جدي بڼه له چارواکو څخه هېله لري تر څو د قانون پلي کول له خپل ځان او خپلو نږدې اړونده کسانو پیل کړي، تر څو ولس هم دې کار ته په خوښه غاړه کېږدي او په‌دې توګه قانون په برابره بڼه پر ټولو وګړو پلی شي.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضاء هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
وحید الله مصلح
عزیزاحمد حنیف

طرح و دیزاین: الیاس نوری
۰۷۸۲۵۹۲۶۲۰

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

آبادی کشور
از آرمان‌های شهدای جهاد است

نصیر احمد نویدی - رئیس شورای مرکزی جمعیت اصلاح

ماه حوت، ماه قربانی‌ها و رشادت‌های فراموش ناشدنی مردم سلحشور کشور است. اگر روز سوم این ماه، یاد آور قیام تاریخی شهریان کابل علیه اشغال اتحاد جماهیر شوروی سابق است، که از خود ده‌ها شهید و زخمی بر جا گذاشت، از طرف دیگر بیست و چهارم حوت، یاد آور قیام قهرمانانه‌ی مردم هرات علیه نظام کمونستی است، که به نوبه‌ی خود هزاران شهید و صدها زخمی بجا گذاشت، اما پایه‌های نظام مستبد و خون آشام وقت را نیز به لرزه درآورد.

طی هر دو قیام در یک طرف ملت مسلمان افغانستان قرار داشت و در طرف دیگر، یک رژیم سفاک و غیر مشروع و حامیان خارجی آنها. این قیام‌ها در انگیزه دادن به آحاد ملت علیه رژیم خون آشام خلقی و باداران بیرونی‌شان و سست ساختن ارکان حکومت کودتایی وقت، تأثیرات به سزایی داشتند. آرمان تمام قربانیان قیام‌های حماسه آفرین حوت که به ده ها هزار می رسد، آزادی کشور از تسلط سیاسی و نظامی بیگانه و آبادی و پیشرفت واقعی افغانستان بود- روح شان شاد ویاد شان جاودانه باد.

ماه حوت ۱۳۹۵ ظاهراً با دو خبر خوش کننده برای مردم افغانستان آغاز می یابد، که خدا کند تحقق یابد. مژده نخست آغاز کار مرحله‌ی اول پروژه‌ی انتقال گاز ترکمنستان از طریق افغانستان به پاکستان و هند می‌باشد، که قرار است تا سه سال دیگر تکمیل شود و ازمدرک آن سالانه ۴۰۰ ملیون دالر به عواید ملی ما افزوده خواهد شد. علاوه برین، فرصت شغلی برای هزاران نفر در بُعد خدماتی و تأمین امنیت پروژه بوجود خواهد آمد. این لوله‌ی گاز که ۱۸۱۴ کیلومتر طول خواهد داشت، ۷۳۵ کیلومتر آن از ولایت‌های هرات، فراه، هلمند و قندهار افغانستان عبور می کند و به این ترتیب اگر این پروژه تطبیق شود، نقش خوبی را در بهبود وضع اقتصادی و امنیتی کشور ایفا خواهد کرد. مرحله‌ی اول پروژه‌ی تاپی که یک سال را در برخواهد گرفت، شامل تأمین امنیت مسیر تمدید لوله، سروی‌ها، دیزاین، ماین‌روبی و استملاک زمین‌هایی است که درین مسیر قرار دارد.

و اما خبر خوش دومی مربوط می‌شود به آغاز کار روی ساختن ستراتیژی برای صادرات کشور، که از طرف وزارت تجارت افغانستان با همکاری اتاقهای تجارت براه انداخته شده است. یکی از شاخص‌های اقتصاد خوب، متوازن بودن بیلانس صادرات و واردات یک کشور است، اما متأسفانه این بیلانس در افغانستان با رقم ۴۰۰ ملیون دالر صادرات سالانه در برابر ۷ ملیارد دالر واردات، نشان می‌دهد که افغانستان اساساً یک کشور مصرفی است و صادرات آن هیچ به حساب می‌رود.

البته مشکل عمده، وجود فساد در دم و دستگاه حکومتی است، که چون دانه‌ی سرطانی، جسم اقتصاد کشور را فاسد ساخته و جلو نموی طبیعی آن‌را می گیرد. از یک طرف سیستم مارکیت (بازار) در قانون اساسی کشور مشروعیت یافته و گمرکات کشور را به روی ورود هرنوع امتعه‌ی بیرونی باز گذاشته است، در حالیکه برای کشوری چون افغانستان، سیستم مختلط، مودل بسیار مفید و عملی می‌توانست باشد. و از طرف دیگر، کار جدیی بخاطر ازدیاد تولید داخلی کشور -خاصتاً اقلامی که در مارکیت بین المللی خریدار دارد- صورت نگرفته است. افغانستان بعنوان یک کشور زراعتی ظرفیت‌های زیادی دارد تا میوه‌های خشک و تازه، و سبزی‌جات متنوع را به پیمانه‌ی وسیعی به خارج از کشور صادر نماید، اما متأسفانه طی یک ونیم دهه، نه به این سکتور حیاتی توجهی صورت گرفته و نه هم بنیه‌های اساسی جامعه رشد داده شده است. تولید زعفران باید حمایه شده و توسعه یابد، که روی‌هم‌رفته جریان دارد، صنایع دستی و قالین افغانستان در مارکیت بین‌المللی خریداران خوبی دارد، اما متأسفانه این صنعت -آن‌چنانی که باید- مورد حمایت قرار نگرفته، هنوز هم مالیات بلند بالای مواد خامی که برای تولید قالین ضروری است، مانعی عمده‌ی درین راستا به حساب می‌آید. دولت باید در ولایات مختلف، شهرک‌های تولید قالین را با تمام سهولت‌های رهایشی و کاری برای تولید کننده‌گان قالین مهیا می‌ساخت، تا با خاطر آرام به تولید قالین باکیفیت می‌پرداختند، اما بدبختانه تا حال چنین کاری صورت نگرفته است.

ما از اقدامات حکومت در جهت همکاری با پروژه‌ی تاپی و تقویه‌ی صادرات کشور از طریق ساختن استراتیژی ملی صادرات و تطبیق آن حمایت نموده و با آن همکار می‌باشیم و از هموطنان خویش نیز می‌خواهیم تا به‌خاطر تسریع روند آبادی کشور، دست بدست هم داده سطح تولید باکیفیت داخلی را بلند و بلندتر ببرند، تا گراف صادرات کشور بالا رفته و اقتصاد ورشکسته‌ی ما رونق یابد.

افغانستان او پاکستان

کړکیچنې اړیکې او وروستۍ ناندرۍ!

اصلاح رسنیز ګروپ/ نعمت الله عزیزي

افغانستان او پاکستان چې له څلورو لسیزو راهېسې یې اړیکې له ډېرو کړکیچونو او ناندریو سره مل دي. پاکستان تل په افغانستان کې په لاسوهنه تورن او څه موده وړاندې یې خپله هم د افغان حکومت له وسلهوالو مخالفینو سره پراخې اړیکې تایید کړې دي.

په وروستیو کې د پاکستان په بېلابېلو برخو کې پرلپسې بریدونه ترسره شول، چې خونړی هغه یې د سند ایالت د لعل شهباز قلندر په زیات کې ځانمرګی برید ؤ، چې له هغه وروسته سمدلاسه افغانستان ته ګوته ونیول شوه، چې ګواکې هغه ډلې چې د پاکستان پر وړاندې جنګېږي په افغانستان کې میشتې دي.

له دې بریدونو وروسته د دیپلوماتیک عرف پر خلاف افغان دیپلوماتان پوځي مرکز ته وغوښتل شول او ۷٦ تنو نوملړ ورته وسپارل شو، چې د پاکستان په وینا په افغانستان کې مرکزونه لري او باید افغان حکومت یې پاکستان ته وسپاري، د دې تر څنګ یې له افغانستان سره د تلو راتلو رسمې پولې هم وتړلې، ځینې افغان کډوال یې په خپله خاوره کې ونیول او د تېر په څېر یې د افغانستان په ځینو سېمو توغوندي هم وورول. خو د کارپوهانو او شنونکو په اند دا هرڅه له نړیوالو فشارونو څخه د خلاصون لپاره کېږي، تر څو وښايي چې پاکستان د تروریزم قرباني دي او ترهګر په افغانستان کې هم شتون لري، ځکه ویل کېږي په وروستیو کې پاکستان په بې ساري ډول د لودیځ تر فشار لاندې دی. خو د تازه راپورونو پر بنسټ امریکا د روان زېږدېز کال په دفاعي بودیجه کې افغانستان ته ۲۲۳ مګر پاکستان ته ۳۲۰ میلیونه ډالر په نظر کې نیولي دي.

سره له دې چې افغان چارواکو په پاکستان کې وروستي بریدونه غندلي او د سخت ترهګرۍ پر وړاندې یې د جدي مبارزې غوښتنه بیا تازه کړې، خو د پاکستان له خوا د سخت دریځو د لیست سپارلو په ځواب کې یې په اسلام آباد کې د افغان سفارت له لارې پاکستاني چارواکو ته د ۸۵ تنو او ۳۲ مرکزونو نوملړ ورکړ چې په افغانستان کې ترهګریز بریدونه کوي او له پاکستاني چارواکو غوښتنه شوې چې د یادو خلکو او مرکزونو پر وړاندې جدي اقدام وکړي. د همدې موضوع بېلابېل اړخونه مو له کارپوهانو او د نظر خاوندانو سره څېړلي دي چې د لوستلو بلنه یې درکوو.

پاکستان ولې وارخطا دی!

په پاکستان کې له وروستیو بریدونو وروسته د افغانستان پر وړاندې د دې هېواد غبرګون ډېر جدي ؤ؛ افغان دیپلوماتان یې احضار کړل، له افغانستان سره یې خپلې دروازې وتړلې، ځینې افغان کډوال یې په خپله خاوره کې ونیول، له بلې خوا یې په ختیځو ولایتونو باندې په دوامدار ډول توپونه وورول. د تېر پر خلاف د افغانستان پر وړاندې د پاکستان د دومره جدي غبرګون لاملونه او اهداف څه دي؟

د سیاسي چارو کارپوه او شنونکی هارون میر وایي: په قبایلي سېمو کې د ضرب عضب له عملیاتو وروسته د پاکستان پوځیانو خلکو ته ویل چې نور په پاکستان کې ترهګر شتون نه لري. خو د ښاغلي میر په خبره لیدل کېږي چې اوس هم پاکستاني طالبان په هغه هېواد کې شتون لري او آن په پنجاب کې د بریدونو وړتیا لري.

د ښاغلي میر په وینا، په دې اساس پوځ د خلکو تر فشار لاندې دی نو اوس غواړي خلکو او خپلې اردو ته مرال ورکړي نو د افغانستان پر وړاندې یې د لومړي ځل لپاره غبرګون په دې حد جدي ؤ.

له بلې خوا د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پخواني استاد او کارپوه فاروق بشر وایي: «په امریکا کې نوی رییس جمهور (ډونالډ ټرمپ) او دفاع وزیر دواړه په دې عقیده وو چې د ترهګرو ځالې په پاکستان کې دي او باید دا ځالې له منځه یوړل شي او په پاکستان باندې فشار واچول شي.»

د نوموړي استاد په وینا اوس پاکستان ځان یوازې ګڼي او لیدل کېږي چې کله چین او کله روسیې

ته ځي تر څو د هغوی مرستې را جلبې کړي. ښاغلی بشر زیاتوي په تېر کې پاکستان نړۍ ته داسې ښودله چې ترسره کېدونکي تروریستي اعمال د پاکستان له خوا نه دي؛ خو د ښاغلي بشر په خبره اوس چې په پاکستان کې هم دا ډول بریدونه کېږي دا څرګندوي چې په پاکستان کې نه یوازې افغاني سخت دریځي بلکې القاعده او داعش هم شتون لري.

د حقوقو او سیاسي چارو دا کارپوه د افغانستان پر وړاندې د پاکستان وروستي سخت غبرګون ته په اشارې سره وایي چې په دغسې حالت کې پاکستان نه غواړي د نړیوالو ملامتیا په غاړه واخلي نو پر افغانستان فشار راوړي او په دې سره غواړي خپلې ګناهونه پټ کړي.

له بلې خوا د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمیسیون غړې آرین یون بیا وایي: پاکستان تر نړیوالو فشارونو لاندې دی او اوس نړۍ دې ته متوجه شوې ده چې د تروریزم اصلي ځالې په پاکستان کې دي او اوس پاکستان غواړي داسې وښايي چې په افغانستان کې هم د تروریزم ځالې شته او کومې حملې چې په پاکستان کې کېږي د افغانستان له خاورې ترسره کېږي.

آغلې یون زیاتوي داسې ګنګوسې شته او له حقیقت هم لرې نه ده چې په پاکستان کې وروستي بریدونه خپله د (ای، ایس آی) یا د پاکستان د استخباراتي شبکې له خوا شوې وي، تر څو دنیا ته وښيي چې پاکستان هم د تروریزم تر خطر لاندې دی او د نړۍ په ځانګړي ډول د امریکا مرستې را جلبې کړي.

په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو دا استازې د تورخم دروازې بندولو ته هم په اشارې وایي چې پاکستان په دې کارونو سره غواړي وښيي چې کولای شي د تورخم دروازه بنده کړي او هدف یې هم دا دی چې ډیورند کرښې ته رسمیت ورکړي. خو په ولسي جرګه کې دا استازې باوري ده چې د پاکستان دا هڅې به هیڅ پایله ورنه کړي.

د پاکستان پر وړاندې د افغان حکومت او د امریکا چوپتیا!

په تېر کې هم د پاکستان له خوا د افغانستان په ختیځو ولایتونو باندې راکټي او توپچي بریدونه ډېر شوي دي، افغان حکومت همیشه ملامتېږي چې د پاکستان د لاسوهنو او بریدونو پر وړاندې په جدي توګه اقدام نه کوي خو له بلې خوا افغانستان د امریکا له متحده ایالاتو سره امنیتي تړون لري چې پر بنسټ یې په افغانستان د بهرني برید په وخت کې امریکا مکلفه ده د افغانستان تر څنګ ودرېږي خو لیدل کېږي چې همیشه د پاکستان د بریدونو پر وړاندې چوپه خوله وي دا چې ولې افغان حکومت د پاکستان پر وړاندې جدې کار نه کوي؟

د سیاسي چارو کارپوه هارون میر وایي: «په خواشینۍ سره افغانستان داسې درنې وسلې او وړتیا نه لري چې پاکستان ته ځواب ورکړل شي، بلکې موږ یوازې کولای شو چې په دیپلوماتیک ډول په ملګرو ملتونو کې او د امنیت په شورا کې شکایت وکړو.» خو په وینا یې موږ هم تر فشار لاندې یو، پاکستان ته اړتیا لرو، اوس هم دوه تر دری میلیونه افغان کډوال په پاکستان کې دي او د سوداګرۍ له اړخه هم افغانستان پاکستان ته اړتیا لري.

د ښاغلي میر په وینا، له همدې امله افغانستان هڅه کوي چې له دیپلوماتیک اړخه ستونزې حل او حد اقل له پاکستان سره اړیکو ولرو او له همدې کبله نشو کولای چې د پاکستان پر ضد ډېرې جدي پریکړې وکړو ځکه نه یوازې ورته اړتیا لرو بلکې کېدای شي پاکستان نورې ستونزې هم موږ ته را ولاړې کړي.

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پخواني استاد او کارپوه فاروق بشر هغه خبرې چې ګواکې افغان حکومت د پاکستان پر وړاندې جدي نه دی اشتباه ګڼي او باور لري چې افغان حکومت چې له ۲۰۰۱ زیږدیز کال راهېسې رامنځته شوی په دې اند دی چې د تروریستانو ځالې که هر ځای وي باید له منځه یوړل شي که په پاکستان، ایران او یا حتا په افغانستان کې وي باید له منځه یوړل شي.

ښاغلی بشر څرګندوي، له دې ډېر جدیت نشي کېدلای ځکه په هره غونډه او ناسته کې له شانګهای نیولې تر بن، مونیخ او نورو پورې افغان چارواکو ویلي چې زموږ ګاونډي مرسته نه کوي، خو د دې استاد په وینا په مستقیم ډول د یو هېواد تورنول چې سخت دریځي روزي د نړیوالو دیپلوماتیکو مراسمو سره سمون نه لري.

د چارو شنونکی فاروق بشر همدارنګه زیاتوي دا چې د پاکستان پر وړاندې ولې عملي اقدام نه کېږي په نورو اړخونو پورې هم اړه لري او په وینا یې افغانستان له امریکا سره امنیتي تړون لري چې په وضاحت سره پکې ویل شوي چې که چېرې پر افغانستان له کوم لوري برید کېږي امریکا به د افغانستان تر څنګ وي خو لیدل کېږي چې د پاکستان پر وړاندې امریکا کوم غبرګون نه څرګندوي.

د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمیسیون غړې آرین یون بیا وایي: «د ډاکټر اشرف غني حکومت ډېر ژر له امریکا سره تړون لاسلیک کړ په داسې حال کې چې دوي باید په امریکا باندې ډېر شرایط ایښي وای خو په ډېره بېړه دا تړون لاسلیک شو.»

آغلې یون زیاتوي په امنیتي تړون کې څرګند دي چې کله په افغانستان باندې کوم بهرنی هېواد برید کوي امریکا به د افغانستان تر څنګ دریږي خو نن چې پر افغانستان د پاکستان له خوا راکټي او توپچي بریدونه کېږي د امریکا دریځ هیڅ معلوم نه دی.

په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو دا استازې سره له دې چې وایي افغانستان په دغسې حالت کې نه دی چې د پاکستان پر وړاندې جګړه وکړي خو بیا هم ټېنګار کوي چې باید افغان حکومت د پاکستان د دې ډول بریدونو پر وړاندې خپل غبرګون وښايي. ځکه د میرمن یون په وینا که افغان حکومت همداسې پټه خوله و اوسي پاکستان دې ډول بریدونو ته دوام ورکوي او خلک او ولسونه به وژل کېږي او د -اوس په ډول چې په لالپوره ولسوالي کې له دوه تر دریو سوو کورنه ویجاړ شوي- د خلکو کورونه به ویجاړېږي.

د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمیسیون غړې میرمن یون ټېنګار کوي چې باید لومړي د دیپلوماتیکو لارو کار واخیستل شي او کنه وي باید پاکستان پر وړاندې غبرګون وښودل شي.

تش تبلیغات که عمل به هم پرې وکړای شي!

په پاکستان کې له وروستیو بریدونو وروسته د دیپلوماتیک عرف خلاف په اسلام آباد کې افغان دیپلوماتان د بهرنیو چارو د وزارت پر ځای د پوځ

یو مرکز ته وغوښتل شول او له بلې خوا د ځینو پاکستاني رسنیو د راپورونو پر اساس هغه خلک چې د پاکستان په وینا په افغانستان کې شتون لري او په وروستیو بریدونو کې لاس لري که دوي ته ونه سپارل شي پاکستانی پوځ به خپله لاس په کار شي او په افغان خاوره کې به عملیات وکړي وضعیت ته په کتو سره تر کومه دا امکان درلولای شي؟

د سیاسي چارو کارپوه هارون میر وایي: په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت کې واحد نظر شتون نه لري او بهرنی سیاست هم ډېر کمزوری دی په ځانګړي ډول د پاکستان پر وړاندې چې له دغسې حالت څخه پاکستان کولای شي ډېره ګټه واخلي.

د نوموړی په وینا په افغان حکومت کې همدا د نظر د یووالي نه شتون د دې لامل کېږي چې موږ ونشو کولای بهرنی سیاست او ستراتیژي ګانې رامنځته ته کړو او په هکله یې ملي اجماع ولرو.

ښاغلی میر باور لري چې په افغانستان کې شته وضعیت پاکستان ته دا اجازه ورکوي چې په افغان خاوره کې هم مستقیماً مداخله وکړی او دا جدی ستونزه ده چې باید موږ هڅه وکړو چې حکومت بیرته خپل سیاسي قوت ترلاسه کړي او په یو غږ د بهرنیانو او مقابل لوري پر وړاندې ودرېږي.

له بلې خوا د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پخواني استاد او کارپوه فاروق بشر بیا د پاکستان دا ډول خبرې تشې لاپې (تبلیغات) ګڼي او باور لري چې پاکستان نه دا کار کولای شي او نه به وکړي ځکه چې امریکا به ورته دا اجازه ورنه کړي نوموړی په دې اند دي چې شاید همدا اوس په پاکستان باندې د امریکا او ناټو فشارونه د افغانستان د غوښتنو سره سم وي.

د حقوقو دا استاد همدارنګه د افغان دیپلوماتانو احضار ته په اشارې سره وایي چې دا دیپلوماتیک رسوم دي چې یو هېواد د نورو هېوادونو دیپلوماتان غواړي تر څو مسایل ورته تشریح کړي دا کار که د پوځ، صداراعظم یا د بهرنیو چارو د وزارت له خوا وشي یوه معنا لري. خو ښاغلی بشر زیاتوي، دا د دیپلوماتیکو رسوم سره سم نه دي چې دیپلوماتان د پوځ له خوا وغوښتل شي خو که یو هېواد وغواړي په خپله خاوره کې کولای شي د بل هېواد له دیپلوماتانو معلومات وغواړي.

د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمیسیون غړې آرین یون بیا وایي دا د پاکستان له خوا یو ډول ویرول دي چې غواړي د افغانستان خلک او حکومت وډار کړي چې ګواکې موږ به د افغانستان په خاوره کې د کرښې دې غاړې ته هم عملیات ترسره کړو.

خو میرمن یون وایي: «فکر نه کوم ځکه که چېرې حکومت یې پر وړاندې چوپه خوله هم پاتې شي او توانایي ونه لري نو بیا به ولسونه لکه د هر یرغلګر پر وړاندې یې چې مبارزه کړې، د پاکستان پر وړاندې به هم را پورته کېږي او د خپل هېواد دفاع به کوي.»

آغلې یون د پاکستان دا ډول تبلیغات یوازې سیاسي ډارول بولي او په وینا یې پاکستان غواړي افغان حکومت وډار کړي خو نوموړې ټېنګار کوي چې باید افغان حکومت هم ونه ډار شي او ولسونو خو همیشه دغسې یرغلګرو ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی دی.

آیا افغانستان ترهګرو ته پناه ورکولای شي؟!

دا چې له ډېرې مودې پاکستان په افغانستان کې په لاسوهنو او مداخلې تورنیږي خو وروستیو کې پاکستان هم افغانستان په دې تورنوي چې پاکستاني طالبانو ته یې پناه ورکړې او یا یې پر وړاندې اقدام نه کوي، د هېواد وضعیت ته په کتو سره چې ستونزې ډېرې او حکومت داخلي اختلافات کې ګیر دی آیا د پاکستان دا ادعا له حقیقت سره تر کومه اړیکه درلودلای شي؟

د سیاسي چارو کارپوه هارون میر وایي: په دې کې شک نشته چې کېدای شي د پاکستاني طالبانو ځینې خلک به د افغانستان په لرې سېمو کې چې هلته افغان حکومت حاکمیت نه لري مرکزونه ولري خو نوموړی ټېنګار کوي چې دا یوازې پاکستان او افغانستان نه دي چې له ستونزو سره لاس او ګریوان دي بلکې د سېمې نور هېوادونه هم دا ستونزې لري له دې کبله باید په سېمه کې د خبرو اترو زمینه برابره شي. د چارو دا شنونکی وایي: «د پاکستان ستونزه دا ده چې د خپلو طالبانو پر وړاندې جګړه کوي خو بیا افغان طالبانو ته پناه ورکوي.»

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پخواني استاد او کارپوه فاروق بشر څرګندوي چې له دیرشو کلونو زیات موده کېږي چې پاکستان په افغانستان کې لاسوهنه کوي، سخت دریځي یې روزلي او افغانستان ته یې استولي خو اوس یې مخ دیوال ته شوي دی او هڅه کوي چې نړیوالو ته وښايي چې هغه سخت دریځي چې په پاکستان کې عملیات کوي په افغانستان کې دي حال دا چې افغانستان هیڅکله تروریست نه منې، نه یې ساتي او نه یې هم روزي او دا د دوي تشې ادعاوې دي.

ښاغلی بشر وایي: افغانستان اوس په دغسې حالت کې نه دی چې د پاکستان پر وړاندې د جګړې اعلان وکړي او یا هغسې څه وکړي چې پاکستان یې کوي، د نوموړي په وینا نو له دې کبله افغانستان هڅه کوي له دیپلوماتیکو لارو دا ستونزه هواره کړي.

د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمیسیون غړې آرین یون بیا وایي: «که د افغانستان وضعیت ته وکتل شي د پاکستان دا ادعا هیڅ عقل نه منې که له یوې خوا وکتل شي بهرني دښمنان دي چې افغانستان لپاره ستر ګواښ دي له بلې خوا په داخل کې هم ستونزې ډېرې دي، حکومت ډېر کمزوری دی او تر اوسه د چوکیو پر ویشل باندې جوړ نه دي نو دې وضعیت ته په کتو سره افغانستان په دې قادر نه دي چې دلته تروریستي ډلې وروزي او پاکستان ته یې واستوي.»

د ننګرهار د خلکو د دې استازې په خبره په دې خبره پاکستان خپله هم ښه پوهېږي او نړۍ هم پوهېږي چې افغانستان په دغسې یو حالت کې نه دی او د دې خبرو هدف همدا دی چې غواړي د خپل بام واورې د بل بام باندې واچوي.

د ولسي جرګې دا غړې پاکستان ته هم پیغام لري او وایي که پاکستان رښتیا غواړي چې هلته امنیت را منځته شي، په افغانستان کې د دسولې لپاره هڅه وکړئ او د افغانستان پر وړاندې باید خپل سیاست بدل کړي.

نگاهی اجمالی به سیر تاریخی اندیشه‌ی اسلامی

(قسمت دوم)

عزیز احمد حنیف

پیشرفت‌های علمی مسلمانان در قرون اولیه

امام ابویوسف قاضی، شاگرد بزرگ امام ابوحنیفه شخص فقیری بود که گفته می‌شود مخارج تحصیلی‌اش از سوی امام فراهم می‌شد اما وقتی به درجه‌ی اجتهاد رسید، دیدگاه وی در خیلی از مسایل با استادش متفاوت بود و اصلاً سؤالی در زمینه وجود نداشت. همانطور: امام محمد بن حسن شیبانی، استاد امام شافعی وقتی خبر شد که دیدگاه شاگردش در خیلی از مسایل با وی متفاوت است، وی را به مناظره فرا خواند و دیدگاه های فقهی متفاوت وی را به عنوان یک مجتهد، تأیید کرد. (حلیه الاولیاء. ج٦ص٣٢٩).

وقتی به تاریخ علمی مسلمانان در قرن های نخست نگاه می‌کنیم، نه تنها در بخش فقه اسلامی، بل‌که در تمام عرصه های علمی با درنظرداشت این‌که نخستین آیات وحی (آیات آغازین سوره‌ی علق» به خواندن و نوشتن اشاره کرده است و قرآن کریم به کاربرد عقلانیت در راستای شناخت وحدانیت الهی، زندگی بعد از مرگ، رسالت خاتم و مسایل دیگر مربوط به انسان، خدا و طبیعت، از آغاز تا انجام تأکید کرده است، در عرصه های مختلف علمی، دست آوردهای چشمگیری دارند. چنانچه می‌بینیم بعد از تدوین قرآن کریم به تدوین فقه و حدیث پرداختند و متعاقباً قواعد علم تاریخ را به گونه‌ی علمی آن وضع کردند و برای اولین بار در تاریخ بشر، به ثبت وقایع و رویدادهای مهم سیاسی، علمی و اجتماعی جهان پرداختند تا زمینه‌ی انکشاف و ترقی را برای نسل‌های بعدی از راه درک و شناخت رویدادهای تاریخی، هموار نموده باشند.

کتاب «مغازی» رسول الله صلی الله علیه وسلم توسط ابن اسحاق متوفای ۱۵۱هـق، سیرت رسول معظم اسلام تألیف عبدالملک بن هشام متوفای ۲۱۸هـق، فتوحات شام توسط محمد عمر واقدی متوفای ۲۰۷هـق، فتوحات مصر و مغرب تألیف ابن عبدالحکم، متوفای سال ۲۵۷هـق نمادی از کتابهای تاریخ در جریان قرن دوم و سوم هجری است. همانطور مسلمانان همزمان با توسعه قلمرو سیاسی اسلام به انکشاف علم جغرافیا به گونه‌ی علمی آن پرداختند؛ چنانچه راه‌های خشکه و بحر را از نزدیک بررسی کردند، فاصله ها میان شهرها را دقیق تشخیص دادند و راه های تجاری و فرهنگی میان بلاد مختلف را کشف نمودند.

استاد عبدالله ناصح علوان می‌نویسد: «مسلمانان نخستین کسانی بودند که سرزمین ها و دریاها را در نوردیدند و راه را برای دیگران در سفرهای اکتشافی هموار کردند و وسایل مورد نیاز این علم را چه در خشکه و چه در دریا به وجود آوردند، از جمله این جغرافی دانان که سفرهای اکتشافی داشتند می توان به افراد زیر اشاره کرد: «رازی»، «ابوعبید البکری»، «العذری»، «الإدریسی»، «ابن جبیر» و «ابن بطوطه و غیره». (دست آوردهای تمدن اسلامی و نقش آن در رنسانس، ص٤٠).

در باب فلسفه وقتی نگاه می کنیم، دانشمندان اسلامی بعد از قرن سوم یکی پی دیگر آمدند و فراز و نشیب اندیشه های سقراط، افلاطون و ارسطو و سایر نظریه پردازان قدیم را در پیوند به شناخت خدا، انسان و هستی به دقت مورد غور و بررسی قرار دادند و فلسفه‌ی نو افلاطونی در جهان اسلام را از نو پایه گذاری کردند؛ بحث های میتافیزیکی اسلامی در حوزه های مختلف علمی به گونه های مشابه و متفاوت مطرح شد؛ عرفان اسلامی و در بخشی از آن، فلسفه‌ی اشراق به وجود آمد و بالآخره بزرگمردانی مانند: ابونصر فارابی، ابن سینای بلخی، ابوریحان بیرونی، ابن رشد اندلسی، ابن حزم اندلسی، فخر رازی طبرستانی، ابی حامد غزالی، شیخ شهاب الدین سُهرَوردی، ملاصدرای شیرازی و غیره آمدند و مسیر فلسفه عقلانی گذشته را رنگ و بوی اسلامی دادند و به مسیر دیگری توجیه کردند.

و اخیراً فیلسوف، متفکر، اسلام‌شناس و شاعر

مشرق علامه محمد اقبال در قرن بیستم میلادی ظهور کرد و با شدت به فلسفه‌ی قدیم یونانیان تاخت و افلاطون را شب پرستِ راه گم کرده و از گروه گوسفندان قدیم خواند:

راهب دیرینه افلاطون حکیم

از گروه گوسفندان قدیم

رخش او در ظلمت معقول گم

در کُهستان وجود افکنده سُم

وقتی به علم نجوم و کیهان شناسی نظر می افکنیم، باز هم دانشمندان مسلمان نخستین کسانی اند که پژوهش‌های ارزشمندی در این عرصه کرده اند؛ چنانچه می‌بینیم در نیمه قرن دوم میلادی منصور عباسی برای اولین بار دستور داد تا کتاب‌هایی را از زبان های عبرانی و سریانی به زبان عربی ترجمه کنند. در این زمان «علم ستاره شناسی در پهلوی سایر علوم به طور شگرفی رشد کرد و انکشاف یافت، و در قرن های سه الی پنجم هجری مسایلی از قبیل قوه جاذبه زمین، بیضویت مدارهای سیارات، مرکزیت خورشید در منظومه شمسی و چرخش زمین و سایر سیارات به اطراف آن و مسایلی از این دست، در حلقات علمی دانشمندان اسلامی به گونه‌ی علمی مورد بحث و بررسی قرار گرفت». (درآمدی بر تمدن اسلامی، ص۱۳۱).

دانشمندان واقع‌بین غربی اذعان دارند که علما و دانشمندان مسلمان، در علم نجوم ابداعات و آثار ارزشمند بسیاری از خود بر جای گذاشتند؛ کتب و نظریات فراوانی که به زبان های مختلف اروپایی ترجمه شده است؛ از جمله مواردی که تاریخ آن را با نهایت اعجاب و شگفتی بیان می کند، این است که مسلمانان رصدخانه های علمی و ستاره شناسی مهمی در شهرهای «طلیله»، «قرطبه»، «بغداد»، «قاهره»، «دمشق»، «سمرقند»، و «فارس» داشته اند». (دست آوردهای تمدن اسلامی و نقش آن در رنسانس، ص۴۳).

وقتی به دست‌آوردهای فنی مسلمانان در بخش هندسه و معماری در قرن‌های اولیه نگاه می‌کنیم، به یقین که انسان در قبال تلاش‌های پیگیر و انکشافات گسترده در شهرهای مختلف مشرق و مغرب عالم اسلام، شگفت‌زده می شود. «جامع دمشق، جامع قاهره، جامع دهلی، جامع اصفهان، کاخ الحمراء، کاخ هشام بن عبدالملک، مسجد جامع قرطبه، مدینه الزهرا، سوق القنادیل، قبه الصخره (که در سال ٦٩ هـ‍ق، به امر عبدالملک بن مروان در بخش شمالی مسجد الاقصی بنا شد) از بناهای قدیمی اسلامی، از نقاط برجسته و قابل توجهی در تمدن اسلامی به حساب می روند که تا حال جایگاه خود را در تاریخ جهان حفظ کرده اند. (تاریخ تمدن اسلام، ص٦٢١).

شهر «الزهرا» در اندلس که مؤرخان آن را به زیبایی و طراوت و عظمت وصف کرده اند، با نظارت مهندسی عرب به نام «مسلمه بن عبدالله العریف» ساخته شده است؛ سنگفرش معابر این شهر را قطعات سنگ رخامی تشکیل می داده است که با مهارت و زیبایی خاصی در هزار طرح و نقش تزیین شده بود؛ این شهر بر روی بلندی کوهی به نام «کوه عروس» در فاصله پنج مایلی شمال غربی «قرطبه» بنا شده بود و مسلمین اندلس توانسته بودند آب را از مناطق کوهستانی دور دست، باکانالهای بسیار محکمی به این شهر بیاورند، و این در قرن دهم میلادی بوده است. (دست آوردهای تمدن اسلامی و نقش آن در رنسانس،ص٤٦).

مسلمانان در بخش ریاضیات، برای اولین بار، کسر اعشار و عدد صفر را کشف نمودند و فنون مختلف حساب را توسعه دادند، علم جبر را اساس گذاشتند و کتاب‌های زیادی را از زبان‌های مختلف به عربی برگرداندند.

در بخش فیزیک وقتی نگاه می‌کنیم، «ابن هیثم پدر فیزیک نور، آغاز کننده تحولاتی است که بعدها به ساخت دوربین عکاسی، دوربین سینما و ساخت پروجکتور پخش فیلم شد، او رساله‌ای درباره نور نوشت و ذره‌بین را ساخت. (همان، ص٤٩).

در بخش کیمیا و صنعت، زیست‌شناسی (بیولوژی)، زراعت و کشاورزی، علم طب و طبابت، در گوشه و کنار مختلف عالم اسلام، دانشمندانی آمدند و به پژوهش‌های میدانی پرداختند که تا چند قرن بعد، نظریات آنها از ارزشمندی تاریخی ویژه‌یی برخوردار بود. آنچه درخور توجه می‌نماید این است که تمام این علوم در محور عقلانیت فقهی می‌چرخید؛ به این معنا که زندگی اجتماعی بشر به خصوص مسلمانان آن سامان، ایجاب می‌کرد تا این‌چنین پیشرفت‌ها در بخش‌های مختلف علمی داشته باشند و علوم مختلف را در راستای خلاقیت فرهنگی و انکشافات تمدنی به کار گیرند. فعالیت‌های علمی ای‌که در زندگی اجتماعی انسان‌ها کاربرد داشته باشد، از نظر فقه اسلامی عبادت خوانده شده است و پژوهشگر اگر مرتکب اشتباه هم شود، در بدل تلاش و زحمتش، از سوی خداوند مستحق پاداش می‌باشد.

از همین جاست که مسلمانان، اجتهاد یا کاربرد عقلانی را به عنوان چهارمین مصدر تشریعی در کنار قرآن و حدیث و اجماع امت، که نقش موتور محرکه نظام اجتماعی اسلام است، پذیرفته اند؛ پس ایجاب می کند که عقلانیت فقهی یک‌جا با زمان حرکت کند. یکی از ویژگی‌ها و روش‌های اجتهادی ای که امام ابوحنیفه در مکتب اجتهادی خویش به‌کار می‌برد، فرض کردن حوادث و رویدادهایی بود که هنوز اتفاق نیافتاده بود؛ این امر نشان می‌دهد که عقلانیت فقهی در قرن دوم به حدی رو به توسعه بوده است که یک‌قدم نسبت به زمان نیز پیشتر بوده است. اما رفته رفته نه تنها این‌که نتوانست با زمان یکجا حرکت کند، بلکه نسبت به زمان، چند قرن عقب افتاد.

ادامه دارد...

habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادبی

خودتان مانع دخول جنت نشوید

عبدالله بن مسعود ا از رسول الله ص روایت مکند که فرمودند: کسیکه در قلب او یك ذره از کبر و غرور باشد وارد بهشت نمشود، یکی از یاران سؤال کرد: ای پیامبر فردی دوست دارد لباس او خوب و زیبا باشد، و همچنین کفش و پاپوش او زیبا و قشنگ باشد! آنحضرت فرمودند: خداوند زیبا و قشنگ است، و زیبائی و قشنگی را دوست دارد، کبر و غرور ناخشنودی و عدم رضایت از حق و تحقیر مردم و ناچیز شمردن آنها است. رواه مسلم.

کلمات جالب

روشن ترین کلمه «امید» است... به آن امیدوار باش.
ضعیف ترین کلمه «حسرت»است... آن را نخور.
تواناترین کلمه «دانش»است... آن را فراگیر.
محکم ترین کلمه «پشتکار»است...آن را داشته باش.
سمی ترین کلمه «غرور»است... بشکنش.
سست ترین کلمه «شانس»است... به امید آن نباش.
شایع ترین کلمه «شهرت»است... دنبالش نرو.
لطیف ترین کلمه «لبخند»است...آن را حفظ کن.
حسرت انگیز ترین کلمه «حسادت»است... از آن فاصله بگیر.
ضروری ترین کلمه «تفاهم»است... آن را ایجاد کن.

کلید های خیر

کلید نماز طهار است
کلید حج احرام است
کلید نیکي راستگویی است
کلید جنت توحید است
کلید علم حسن سئوال کردن و تلاش است
کلیدل کامیابي صبر است
کلید ازدیاد شکر است
کلید فلاح تقوا است
و کلید اجابت دعاء است.

بهترین جهاد ها و بهترین مؤمنان

سرادر مجاهدین رسول کریم صلی الله علیه وسلم است
بهترین مؤمنان از نظر اسلام آن است که از ضرر زبان و دستش مسلمانان با آ مان باشند.
بهترین مؤمنان از نظر ایمان کسی است که اخلاقش نیکو باشد.
بهترین مهاجرین کسی است که از آنچه هجرت کند که خداوند از آن منع کرده است.
بهترین جهاد آن است که مجادله با نفس صرف برای الهی صورت بگیرد
بهترین انسان در بین مردم کسی است که با مال و نفسش در راه خدا جهاد بکند.

معلومات

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

ماتی ومنئ

۱-دعلم او هنر په ډګر کښې داستادانو .
۲-دژبې په چلند کښې دښځې .
۳- د لوړ رغ په مهال دخره څخه .
۳-دمباحثې په وخت د ناپوه څخه .
۴-په خوراك او څښاك کښې دملګري څخه .

حضرت عمر رضی الله عنه خو دروغ نه وايي

حضرت عمر رضی الله عنه چې د نبوت له مدرسې نه فارغ شوی فرمايي: "څوك چې ډير خاندي هيبت به يې کميږي، او څوك چې ټوکې کوي، د خلکو په نظر کې به کم معلوميږي، او څوك چې يو عمل ډير سرته رسوي. په هماغه صفت به مشهور شي، او څوك چې ډيرې خبرې کو ي ډير به غلطيږي، او د چا چې تيرونې ډيرې شي، حيا به يې کمه شي او د چا حيا چې کمه شوه تقوا به يې کمه شي او د چا چې تقوا کمه شوه زړه به يې مړ شي "

الله دې پر هغه چا رحم وکړي، چې...

عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه ته يو کس خبر ورکړ، چې زوی دی، په زر درهم يوه ګوتمه اخستې ده، عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه هغه ته خط وليکه او ورته يې وويل، چې ماته خبر را رسېدلی دی، چې دا په زر درهمه يوه ګوتمه اخستې ده، ددې ليک د ترلاسه کولو سره سم هغه ګوتمه خرڅه کړه، او په ځای يې زر مسکينان په ګېډه ماړه کړه، او يوه د اوسپنې ګوتمه ځان ته واخله او پرې وليکه : الله دې پر هغه سړي رحم وکړي، چې د ځان قدر پېژني. (سرچينه: کتاب الحب بين العبد والرب). نو درنو لوستونکو په اوسنۍ زمانه کې دې الله پر هغه کس رحم وکړي، چې له سختې اړتيا پرته په لسګونو زره روپۍ قيمت لرونکي موبايلونه په جېبونو کې ساتي، او ګاونډي يې د يو وخت لپاره ډوډۍ نه لري.

مينه دې ته وايي!

مينه د "علي" وه، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ځای د هغه په بستره کې څملي او ښه پوهيږي، چې ټول قوم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وژنې لپاره راټول شوی دی او په همدې بستره کې به مړ کېږي.

مينه د "صديق" ده، چې رسول الله ﷺ ته غار ته له ننوتلو مخکې وايي: ته ودرېږه مه ورننوځه، لومړی به زه ورشم که څه مضر شی په کې وي چې زه ورسره مخ شم او تاته ضرر ونه رسوي.

مينه د "بلال" وه، چې د خپل محبوب رسول ﷺ څخه وروسته يې آذان پرېښود، کله چې ترې عمر رضی الله عنه د آذان غوښتنه وکړه نو له آذان وروسته يې د خپل محببوب ﷺ په فراق کې دومره وژړل چې ټول عمريې نه و ژړلي.

مينه د رسول الله صلى الله عليه وسلم وه، چې ويل يې "د عايشې په حق کې مې مه خفه کوئ".

مينه د "زبير" ده، چې د رسول الله ﷺ د قتل آوازه اوري، په داسې حال کې چې ۱۵ کلن ځوان دی، توره را اخلي او غواړي قاتل پيدا او ويې ژوني.

